Aef.kdr@gmail.com
۰۷۰۰۳۰۸۹۲۹

# دارالافتاء

## مدرسة العلوم الاسلامية الحمادية

پامیلۍ پله ته څېرمه \ دوولسمه ناحیه\ لویه ویاله\ کندهار

**فتوای نمبر: ۱۵۶۵**

**څانګه: اجارة**

**د کیونیټ په نامه معامله جایز ده؟**

محترم مولوي صاحب! یوه نوې معامله په کابل کې پیل سوې ده ، چې کیونیټ (qnet) نومیږي، ډېرو خلکو کار هم ورسره شروع کړی دئ، او ډېر خلک په شک کې هم دي لطفا که په دې اړه باندي فتوا صادره کړئ ډېر به ښه سي.

**سائل:**

سائل: حاجي محمد یعقوب، عینو مېنه قندهار.

**الجواب بعون الملهم الوهاب:**

محترم ورور ستاسو په جواب کې زه څلور خبري کول غواړم:

۱: د کیونیټ معاملې واضح کول، چې دوی څنګه کار کوي.

۲: ددغه او نورو فتواوو په اړه زما د تګلاري وضاحت.

۳: ستاسو د پوښتني عقلي جواب او پر اقتصاد یې اغیز.

۴: ستاسو د پوښتني جواب د اسلام له نظره.

**لومړۍ خبره: د کیونیټ معلومات:**

کیونیټ شرکت ځیني توکي بازار ته عرضه کوي او خرڅوي یې عام خلک داسي پکښې سهیم کوي، چې یو کس به لومړی ددې شرکت څخه یو شی را نیسي هغه شی به مثلا ۱۰۰ ډالره ارزښت لري خو دی به یې په پنځه سوه ډالره رانیسي. همدا ډول به دغه کس د شرکت سره یوه اندازه پیسې جمع کوي ، بیا به کوشش کوي، چې دې شرکت ته نور مشتریان راولي هرکله چې یې مشتریان راوستل شرکت دده پیسې ورکوي او که یې نه راوستل بیا هیڅ شی نه ورکول کیږي او دی ، چې هر مشتري، راولي د هغه مشتري پر سره باندي بیا یوه اندازه پیسې ورکول کیږي.

**دوهمه خبره، د فتواوو په اړه زما موقف:**

محترم ورور تاسو او نور ټول ملګري ته باید واضحه وي، چې هر هغه کار ، چې نظام اجازه ورکړې وي او یا هم په نړۍ کې ځیني دیني علماوو اجاز ورکړې وي زه یې په اړه دوه اصول لرم:

الف: هیڅ کله ځان ته دا حق نه ورکوم، چې هغوی خپلي خبري منلو مجبور کړم ، نه یې توهین کوم نه به زما په لیکنه کې دهغوی د دلایلو رد وي بلکي زما جواب به په خپل ځان کي پر دلایلو او حوالو بناء وي.

ب: زه په حنفي مذهب کي تخصص لرم او هره فتوا به د همدې مذهب د اصولو په رڼا کې لیکم ، هره فتوا چې ددې مذهب سره په ټکر کې وي چا ته ددې حق نه ورکوم چې د هغې فتوا منلو ته ما مجبور کړي د نورو خپل کار دئ خو زما لپاره نه د نظام اجازه معیار ده او نه هم هغه فتوا معیار ده، چې دحنفي مذهب په اصولو کي حل سوې نه وي ځکه نظام په ټولو بانکونو کې د سودي معاملو اجازه هم ورکړې ده زه خو نه سم کولای، چې صرف د نظام په اجازه سره سود جایز وګڼم، همدا ډول په نوره نړۍ کې ځینو علماوو سینماوو ، موسیقیو او داسي نورو ته هم اجازه ورکړې ده سره ددې ، چې زما نظر داسي نه دئ هغوی ته په ډېر احترام زه ځان ته دا حق نه ورکوم، چې خپله رایه په

تاسو ومنم، لطفا تاسو زما څخه دا حق مه اخلئ، چي ستاسو هر تحقيق او هره اجازه ومنم، سره ددې، چي زه د يوه ازاد افغان په حيث د تحقيق حق لرم، پر اصولو باندي د بناء تحقيق اجازه راکړئ.

**دريیمه خبره، ستاسو د پوښتني عقلي جواب:**

محترم ورور تاسو ته معلومه ده، چي دا هیواد دربدره دئ، هر خارجي، چي دلته راغلی دئ ددې دربدره هيواد څخه يې پيسو ټولي کړي دي يا يې پيسې راوړي دي خو تر پيسو يې تاوان ډېر پېښ کړی دئ، ځکه نو زه وايم، چي ګټې دوه ډوله دي:

**الف**: شخصي ګټه.

**ب**: عامه ګټه.

معلومه خبره، چي زموږ په ټولنه ځيني کسان داسي سته، چي تر عامه او ملي ګټو يې خپل د جيب ګټې خوښې وي که داسي نه وای نو دا دومره تزوير او اختلاس به ولي په دې هيواد کي وای؟ البته ټول داسي نه دي بناء که معامله ريشتيا همداسي وي لکه ما چي يې معلومات پيدا کړی او ليکلی دئ معلومه خبره ده، چي په دې کار کي به څو کسانو ته خورا ډېري ګټې ورسيږي خو د عقل په اعتبار به ملي ګټې په اور سوځل سي، لطفا تاسو هغه ګټې ته مه ګورئ، چي ستاسو جېب ته ولوېدل بلکي په عمومي ډول تاسو د رياضي يوه استاد ته ورسئ او ددې کار محاسبه ورسره وکړي، چي که فرضا يوازي په قندهار کي يو ميلون کسان وي دا ټول په دې شرکت کي ګډون وکړي شرکت ته به څومره پيسې جمع سي او يوه ميلون خلکو ته به څومره پيسې جمع سي؟ او که فرضا د ټول افغانستان خلک ګډون پکښي وکړي تاسو دقيق حساب وکړئ ياد شرکت به ددې دربدره هيواد شپېته فيصده پيسې جمع کړي او وړي وي او بېرته به يې دې خلکو څلوېښت فيصده پيسې ورکړي وي، لطفا او لطفا تاسو ديوه اقتصاد پوه سره ددې زاويې مشوره وکړئ، چي دې هيواد ته څومره ګټه رسيږي او څومره نقصان رسيږي هغه حاصل يې را وباسئ، په دې شرط که داسي وي لکه زه، چي خبر سوی يم حاصل دا چي ياد شرکت به په خارج کي وي تاسو افغانان صرف ددې لپاره، چي په شرکت کي دننه درکول سوه يوه اندازه معاش درکول سوی يا هم تا پيسې پکښي جمع کړې ګټه په لاس درغلل نور افغانان دي ورته راوستل دهغو پيسي دوی جمع کړې ډېري يې خپله وا خستلې لږ يې تا ته درکړې ته په خوشاله سوې په دې وجه د هيواد اقتصاد مه خرابوئ.

دلا وضاحت لپاره بايد ووايم چي ياد شرکت د باندي څخه هيڅ ډول پيسې نه راوړي او نه هم پانګونه کوي صرف ستاسو څخه د يوه ګيم په ډول پيسې ټولوي ډېره برخه يې خپله اخلي لږ برخه يې تاسو ته درکوي.

---

**څلورمه خبره، ستاسو د پوښتني جواب د اسلام له نظره:**

د کيونيټ معامله دوه ډوله کېدای سي:

**الف:**

دا چي د کيونيټ شرکت پر خلکو باندي توکي د بازار په نرخ خرڅوي يا يې لږ ګران خرڅوي او بيا هر رانيونکي ته وايي، چي دغه توکي مي درباندي خرڅ کړل ولاړ سه نور مشتريان راوله د هر مشتري پر سر باندي تا ته کميشن درکوم لکه دلالي په دې کار کي هيڅ شرعي ممانعت نسته هم بيع جايز ده او هم دلالي جايز ده، ځکه زموږ د فقه شريف کتابونه وايي:

وفي الرد:

قَالَ فِي الْبَزَّازِيَّة: إجَارَةُ السِّمْسَارِ وَالْمُنَادِي وَالْحَمَّامِيِّ وَالصَّكَّاكِ وَمَا لَا يُقَدَّرُ فِيهِ الْوَقْتُ وَلَا الْعَمَلُ تَجُوزُ لِمَا كَانَ لِلنَّاسِ بِهِ حَاجَةٌ...ج:٦\٤٧، ط: بيروت.

( إذَا شُرِطَتْ الْأُجْرَةُ فِي الْوَكَالَةِ وَأَوْفَاهَا الْوَكِيلُ اسْتَحَقَّ الْأُجْرَةَ , وَإِنْ لَمْ تُشْتَرَطْ وَلَمْ يَكُنْ الْوَكِيلُ مِمَّنْ يَخْدُمُ بِالْأُجْرَةِ كَانَ مُتَبَرِّعًا . فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يُطَالِبَ بِالْأُجْرَةِ ). شرح مجلة سليم باز:٢\٧٩ المادة:١٤٦٧

الوكالة بأجر: تصح الوكالة بأجر، وبغير أجر، لأن النبي صلّى الله عليه وسلم كان يبعث عماله لقبض الصدقات، ويجعل لهم عمولة (٣) . فإذا تمت الوكالة بأجر، لزم العقد، ويكون للوكيل حكم الأجير، أي أنه يلزم الوكيل بتنفيذ العمل، وليس له التخلي عنه بدون عذر يبيح له ذلك، وإذا لم يذكر الأجر صراحة حكم العرف: فإن كانت مأجورة عادة كتوكيل المحامين وسماسرة البيع والشراء، لزم أجر المثل، ويدفعه أحد العاقدين بحسب العرف. وإن كانت غير مأجورة عرفاً، كانت مجاناً، أو تبرعاً، عملاً بالأصل في الوكالات: وهو أن تكون بغير أجر على سبيل التعاون في الخير. وهذا النوع لا يلزم فيه المضي في العمل، بل للوكيل التخلي عنه في أي وقت. وهذا مذهب الحنفية والمالكية والحنابلة.
فقه الاسلامي وادلته:٤\٥٠٥\ط:شاملة

**ب:**

دوهم صورت دادئ، چي کيونيټ شرکت يو کس ته د سلو ډالرو شی په پنځه سوه ډالره ورکوي دا کار نا جايز دئ ځکه خدع، غبن او فريب دئ البته پر عقد باندي يې اثر څه ډول دئ؟ وروسته خبره وربانديکوو، رسول الله صلی الله فرمايي:

عَنْ سَيِّدِنَا عُمَرَ – رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ – أَنَّ النَّبِيَّ – عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ – حِينَ قَالَ لِحَبَّانَ بْنِ مُنْقِذٍ «إذَا بَايَعْتَ فَقُلْ: لَا خِلَابَةَ وَلِي الْخِيَارُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ» وَكَانَ حَبَّانُ ضَرِيرًا.بدائع:٥\١٦۴

... " وَ " «مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا» ". (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ) .مرقاة الفاتيح:١\٣١٩

پاته دي نه وي، چي که دغه غبن په داسي ډول سوی وو، چي مشتري بيخي په خبر نه وو، مشتري کولای سي، چي دغه سوداء بېرته فسخه کړي او که خبر وو، قصدا يې ګران هغه شی رانيوی د يوه بل مطلب لپاره بيا حق نه لري، چي مبيعه ور رد کړي خو غبن، دوکه او فريب هر وخت حرام دئ.

زموږ د فقه شريف کتابونه وايي:

وفي تحفة الفقهآء: وَلَو قَالَ إِن قيمته كَذَا وَهُوَ أَكثر من قيمته وَالْمُشْتَرِي لَا يعرف قيمَة الْأَشْيَاء وَاشْتَرَاهُ بِنَاء على قَول البَائِع فَإِنَّهُ يكون لَهُ الْخِيَار لِأَنَّهُ يصير غارا أما إِذا كَانَ عَالما بِالْقيمَةِ وَاشْتَرَاهُ بِأَكْثَرَ من ذَلِك لغَرَض لَهُ فِي ذَلِك فَلَا بَأْس بِهِ وأصحابنا يفتون فِي المغبون أَنه لَا يرد وَلَكِن هَذَا فِي مغبون لم يغر أما فِي مغبون غر فَيكون لَهُ حق الرَّد اسْتِدْلَالا بِمَسْأَلَة الْمُرَابَحَة فِي النَّسِيئَة...ج:٢\١٠٨

همدا ډول که شرکت لرونکی د يوه کس پيسې د ځان سره رهن يا قرض ايږدي او بيا ورته وايي چي ورسه مشتريان راوله په دې صورت کي که هغه مشتريان راولي او که يې نه راولي شرکت بېرته پيسې ورکوي دغه صورت په څو شرطونو جايز کېدای سي او که هغه کس مشريان نه راولي شرکت پيسې نه ورکوي دا صراحتا غصب دئ او د هغه کس پيسې بلاعوض او بلا طيب نفس خوړل دي بناء ځان ځني ساتل پکار دي.

وَقَالَ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –: «لَا يَحِلُّ مَالُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إلَّا بِطِيبَةِ نَفْسٍ مِنْهُ» وَقَالَ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –: «سِبَابُ الْمُسْلِمِ فِسْقٌ، وَقِتَالُهُ كُفْرٌ، وَحُرْمَةُ مَالِهِ كَحُرْمَةِ نَفْسِهِ» وَقَالَ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – فِي خُطْبَتِهِ: «أَلَا إنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ حَرَامٌ عَلَيْكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِي هَذَا فِي شَهْرِي هَذَا فِي مَقَامِي هَذَا» (فَثَبَتَ) أَنَّ الْفِعْلَ عُدْوَانٌ مُحَرَّمٌ فِي الْمَالِ كَهُوَ فِي النَّفْسِ؛ وَلِهَذَا يَتَعَلَّقُ بِهِ الْمَأْثَمُ فِي الْآخِرَةِ كَمَا قَالَ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –: «مَنْ غَصَبَ شِبْرًا مِنْ أَرْضٍ طَوَّقَهُ اللَّهُ تَعَالَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ سَبْعِ أَرَضِينَ» إلَّا إنَّ الْمَأْثَمَ عِنْدَ قَصْدِ الْفَاعِلِ مَعَ الْعِلْمِ بِهِ.

فَأَمَّا إذَا كَانَ مُخْطِئًا بِأَنْ ظَنَّ الْمَأْخُوذَ مَالَهُ أَوْ كَانَ جَاهِلًا بِأَنْ اشْتَرَى عَيْنًا ثُمَّ ظَهَرَ اسْتِحْقَاقُهُ لَمْ يَكُنْ آثِمًا لِقَوْلِهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –: «رُفِعَ عَنْ أُمَّتِي الْخَطَأُ وَالنِّسْيَانُ» وَالْمُرَادُ الْمَأْثَمُ.

فَأَمَّا حُكْمُهُ فِي الدُّنْيَا فَثَابِتٌ سَوَاءٌ كَانَ آثِمًا فِيهِ أَوْ غَيْرَ آثِمٍ؛ لِأَنَّ ثُبُوتَ ذَلِكَ لِحَقِّ صَاحِبِهِ وَحَقُّهُ مَرْعِيٌّ، وَإِنَّ الْآخِذَ مَعْذُورٌ شَرْعًا لِجَهْلِهِ وَعَدَمِ قَصْدِهِ، وَالْحُكْمُ الْأَصْلِيُّ الثَّابِتُ بِالْغَصْبِ وُجُوبُ رَدِّ الْعَيْنِ عَلَى الْمَالِكِ بِقَوْلِهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –: «عَلَى الْيَدِ مَا أَخَذَتْ حَتَّى تَرُدَّ» وَقَالَ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –: «لَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ أَنْ يَأْخُذَ مَتَاعَ أَخِيهِ لَاعِبًا، وَلَا جَادًّا، فَإِنْ أَخَذَهُ فَلْيَرُدَّهُ عَلَيْهِ» وَقَالَ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –: «مَنْ وَجَدَ عَيْنَ مَالِهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ» وَمِنْ ضَرُورَةِ كَوْنِهِ أَحَقَّ بِالْعَيْنِ وُجُوبُ الرَّدِّ عَلَى الْآخِذِ، وَالْمَعْنَى فِيهِ أَنَّهُ مُفَوِّتٌ عَلَيْهِ يَدَهُ بِالْأَخْذِ، وَالْيَدُ لِصَاحِبِ الْمَالِ فِي مَالِهِ مَقْصُودٌ بِهِ يَتَوَصَّلُ إلَى التَّصَرُّفِ وَالِانْتِفَاعِ وَيُحَصِّلُ ثَمَرَاتِ الْمِلْكِ، فَعَلَى الْمُفَوِّتِ بِطَرِيقِ الْعُدْوَانِ نَسْخُ فِعْلِهِ لِيَنْدَفِعَ بِهِ الضَّرَرُ وَالْخُسْرَانُ عَنْ صَاحِبِهِ...المبسوط للسرخسي:١١, ٤٩

بله خبره داده، چي د کیونیټ شرکت په ډېرو اسلامي هیوادونو کي منع سوی دئ او دهغو هیوادونو مشهورو دارالافتاوو حرام بللی دئ، لکه مجمع الفقه الاسلامي بالجده، جامعة الازهر في المصر، قطر، کویت، فلسطین. سوریا، اوداسي نور...

**مسئله:** که چا پر ددغه شرکت سره پر هغه جایزه طریقه باندي معامله کړې وي کولای سي، چي دوام پسي ورکړي او ګټه ورته جایز ده او که يې په ناجایزه طریقه باندي کړې وي نو فورا دي کار ورسره پرېږدي او کومي پیسې، چي يې په ګټلي وي هغه دي خیرات کړي.

**والله اعلم**

مولوي عبدالهادي حماد

۱۳ محرم الحرام، ۱۴۴۲ه ق

مولوي عبدالهادي ((حماد))